

اروپايي هېوادونه په ګډه کار کوي

# پناه غوښتنه، د کورنۍ موندل او ورسره يو ځای کېدل

**په هغه هېواد کې پاتې شئ چېرې چې ستاسې نوملیکنه شوې ده.**


دا چې ستاسې هېواد ستاسې لپاره خوندي نه دی او غواړئ چې د **پناه غوښتنه وکړئ**، نو افسرانو ته ووایاست. اړوند چارواکي **به ستاسې نوملیکنه وکړي**.

## د نوملیکنې پر مهال به افسران

- ستاسې د نوم، عمر او ملیت پوښتنه وکړي. هغوی به همداشان ستاسې د کورنۍ او دا چې دلته څرنګه را ورسېدی، پوښتنه وکړي.
- ستاسې انځور او د ګوتو نښې (6+ کلن) به واخلي.
- ستاسې اسنادونه (تذکره، پاسپورت، د زېږون سند) به وګوري او له تاسو سره د اړیکې نیولو د معلوماتو پوښتنه به وکړي.

## افسر ته ووایاست که چېرې

- تاسې تر 18 کلنۍ ټیټ او یوازې راغلي یاست. هغوی به تاسې ته یو کس وګوماري چې ورته سرپرست وايي تر څو ستاسې ملاتړ وکړي.
- د خپلې کورنۍ په لټه کې یاست. هغوی به تاسې سره مرسته وکړي چې کورنۍ مو ومومئ، هغه هم که چېرې دا کار ستاسې په ګټه وي. که غواړئ چې له خپلې کورنۍ سره یو ځای نه شئ، نو له خپل سرپرست سره خبرې وکړئ.
- له کوم اروپايي هېواد سره چې پخوا تاسې هلته وئ، بلد یاست.
- ښه احساس نه کوئ یا که د کوم بل څه په اړه اندېښمن یاست.




که چېرې دي هېواد ته په یوه وخت کې زیات شمېر خلک راورسیږي، نو ځینې یې ښایي کوم **بل یوه اروپايي هېواد ته ولېږل شي.**

تاسې نه شئ کولای چې هغه هېواد وټاکئ چې **ورته لېږدول** کېږئ.

که چېرې تاسې له دې لېږد سره مخالفت لرئ نو کولای شئ **اپیل** وکړئ، خو باید خپل دلیل هم په ډاګه کړئ.

## په یاد ولرئ

- د مشورې تر لاسه کولو لپاره تاسې تل د یوه وکیل پوښتنه کولای شئ.
- که چېرې تاسې د هغوی په ژبه نه پوهیږئ نو د یوه ژباړن غوښتنه وکړئ.
- هر څوک چې دلته کار کوي باید له تاسې سره په درناوي چلند وکړي.
- له افسرانو سره همکاري وکړئ. که د دوی خبرې ناسمې یا مبهمې وي، له هغوی وغواړئ چې وضاحت ورکړي.



Pashto

euaa
EUROPEAN UNION AGENCY FOR ASYLUM

© پناه غوښتنې لپاره د اروپايي اتحادیې اداره، 2025